AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۷/۱۸

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(څلورويشتمه برخه)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۲۰)**

**بېنظیر بوټو چا ووژله؟ جنرال پرویز مشرف او نور (۲)**

د بېنظیر بوټو د مرموز ترور په تړاؤ **د ملګرو ملتونو د پلټنو کمېسیون**[1] موندلي مالومات (چې په ۷۰ مخونو کې راټول شوي دي) تر ډېره کره او مهم ښکاري چې د پېښې ډېرى تیاره اړخونه روښانه کوي، موږ د موضوع د لا روښانتیا لپاره، د نوموړي کمېسیون د راپور ځینې اړین مالومات را اخلو:
کمېسیون لیکي چې مېرمن بېنظیر بوټو او د هغې همکاران، د پاکستان د پېچلي امنیتي وضعیت او د هغې پر خلاف د موجودو ګواښونو له امله، په پرلهپسې توګه د پاکستان له فدرالي او ایالتي حکومتونو څخه غوښتنې کولې چې امنیتي تدابیر یې پیاوړي کړي. هغوی د لاندي امکاناتو غوښتنې کړې وې:
زغرهوال، مرمی ضد موټرونه؛ زغرې، یا مرمی ضد واسکټونه؛ د راډیویي سیګنالونو د ګډوډولو وسایل؛ د موټرو د تورو ښیښو د کارولو اجازه؛ اضافي روزل شوي امنیتي ځواکونه او د ځواکونو ګومارل چې د هغې د کاروان او استوګنځایونو ساتنه وکړي.
بېنظیر بوټو پر جنرال مشرف او د ده د حکومت پر امنیتي ځواکونو تر دې کچې بې باوره وه چې د هغې لومړنی غوښتنه دا وه **چې له جلاوطنۍ څخه پاکستان ته د راستنېدو پر مهال دې له هغې سره یوه بهرنی امنیتي ډله مل وي او هغوی ته دې اجازه ورکړل شي.**[2]

له بېنظیر بوټو سره د بهرنیو شخصي امنیتي شرکتونو په هکله، د اسراییلو عبري ژبې ورځپاڼې **معاویو (Maariv)** راپور ورکړ چې میرمن بوټو د خپل ترور څخه څو اونۍ وړاندې **د امریکا مرکزي استخباراتو (CIA) ؛ د بریتانیا سکاټلنډ یارډ [پولیسو] او د اسراییلو (موساد) څخه د خپل امنیت لپاره د مرستې غوښتنه کړې وه.**[3]

---

[1]: « https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf
ژباړه:«د پخوانی پاکستانی لومړی وزیرې محترمې بېنظیر بوټو د ترور د حقایقو او حالاتو په اړه د ملګرو ملتونو د پلټنې کمیسیون راپور.»

[2]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf

[3] : متل دی چې وايي:**(د وطن سویه د وطن سپی نیسي.)** کیدای شي په دې ځای کې بېنظیر بوټو له دې امله تر نیوکو لاندې راشي چې ولې یې د خپل امنیت لپاره امریکایانو، انګرېزانو او اسراییلو ته مراجعه کړې وه.
پوهیږو چې له جنرال مشرف څخه عملاً یو امریکایی، انګرېز او اسراییل جوړ شوي ؤ او په دواړو لاسو امریکایانو ته تسلیم او سلامي شوی مزدور او غلام ؤ نو د دې لپاره چې بېنظیر بوټو، جنرال مشرف له داسې چا سره مخ کړي چې هغه د ده باداران دي چې د خپلو بادارانو پر وړاندې مشرف نه شي کولی بېنظیره له خطر سره مخ کړي نو ځکه بېنظیرې د پورته هېوادونو له شخصي امنیتي شرکتونو مرسته غوښتې وه.
بلې خوا بېنظیر بوټو په دې پوهیده چې جنرال مشرف او اندېوالان یې غواړي هغه ووژني، که چېرې له بېنظیرې سره بهرني ساتونکي مله وای نو نه به په کراچۍ کې بریدونه پرې شوي وای او نه به هغه وژل شوي وای او په دې هر څوک پوهیږي چې انسان خو پرېږده، ځاروي هم د خپل ژوند د ساتلو لپاره له هر ډول امکاناتو کار اخلي. په دې توګه زه د بېنظیرې دا ګام چې له امریکایانو، انګرېزانو او اسراییلو یې د خپل ژوند د ساتلو لپاره مرسته غوښتې وه، نه ملامتوم، په داسې حال کې چې زه د امریکایانو، انګرېزانو، په تېره بیا د اسراییلي صهیونستي سیاست سخت مخالف یم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسراییلي چارواکو لا پرېکړه نه وه کړي چې مرسته به ورسره وکړي که نه، هغوی نه غوښتل له پاکستان او هند سره خپلې اړیکې زیانمنې کړي.[4]

جنرال پرویز مشرف دا غوښتنه د ملي حاکمیت د ساتنې په پلمه ونه منله او **«حکومت دغو بهرنیو امنیتي شرکتونو ته د ویزو له ورکولو ډډه وکړه.** په داسې حال کې چې امریکایي ډیپلوماتانو مېرمن بوټو ته د هغې پر وړاندې د شته ګواښونو په اړه د امریکا محرم استخباراتي مالومات ورکړي وو.»[5]

د پاکستان فدرالي او ایالتي چارواکو د مېرمن بېنظیر بوټو ځینې غوښتنې ومنلې، لکه د بلاول هاوس او زرداري هاوس استوګنځایونو د ساتنې په موخه یې پولیس ولېږل؛ د ټاکنیزو سفرونو پر مهال یې یو شمېر پولیس بدرګه کوونکي هم ورسره کړل **خو دغه بدرګي عموماً ډېرې محدودې وې.**
د سیګنال ګډوډوونکو وسایلو غوښتنه هم په ځینو مواردو کې ومنل شوه **خو د پیپیپي غړو به تل شکایت کاوه چې دغه وسایل سم کار نه کوي.**[6]
د ملګرو ملتونو کمېسیون په راپور کې راغلي چې د امنیتي پلان له مخې، په لیاقت باغ کې باید ۱۳۷۱ تنه پولیس ځایپرځای شوي وای، د پیپیپي ګوند غړو د لیاقت باغ غونډې امنیت تر ډېره په خپله ساتلی ؤ او د ننوتلو په مهمو دروازو کې له پولیسو سره مرستندوی وو چې د خپل ګوند غړي وپېژني[7] او ناپېژاند کسان ننوتلو ته پرې نه ږدي. همدا وجه وه چې ځانمرګي کس ونه شول کولی د لیاقت باغ پارک ته (چې په هغه ځای کې غونډه ترسره کېدله) ننوځي.
جنرال مشرف (چې په واک کې ؤ) د بېنظیر بوټو، برعکس، له خپلو نږدې سیاسي نوماندانو سره یې هر ډول امنیتي مرستې کولې، د ملګرو ملتونو کمېسیون لیکي چې «د کورنیو چارو وزارت د خپلې کړنلارې له مخې د دغو ګواښونو خبرتیاوې چې ډېرې وخت په لیکلې بڼه، ایالتي چارواکو ته استول کېدلې او هغوی ته یې سپارښتنه کوله چې له پیاوړو او دقیقو امنیتي تدابیرو دې کار واخلي.

**خو کمېسیون ومونده چې په دغو اسنادو کې هېڅ داسې روښانه او مشخصې لاربښوونې نه وې چې د مېرمن بېنظیر بوټو د ساتنې لپاره دقیق امنیتي اقدامات تعریف شوي وي.**
کمېسیون د کورنیو چارو وزارت یو لیک تر ځېرنې لاندې ونیو چې د ۲۰۰۷ز. کال د اکتوبر په ۲۲مه نېټه صادر شوی ؤ چې هغه لیک په ښکاره توګه د فدرالي حکومت یو رسمي امر ګڼل کېده. دا لیک ټولو ایالتي حکومتونو ته استول شوی ؤ چې په هغه کې داسې امر شوی ؤ چې د پخوانیو دوو تنو لومړیو وزیرانو **(شوکت عزیز) او (شجاعت حسین چودري)** لپاره دې ټینګ او ځانګړي امنیتي تدابیر ونیول شي. **دغه دواړه کسان د (PML-Q) غړي او د جنرال پرویز مشرف نږدې متحدین وو.**
د کورنیو چارو وزارت په لیک کې ایالتي چارواکو ته سپارښتنه شوې وه چې دغو دواړو پخوانیو لومړیو وزیرانو ته د VVIP[8] کچې امنیت ونیول شي او په تفصیل سره یې هغه امنیتي تدابیر هم بیان کړي وو چې باید عملي شي.
د کمېسیون په غوښتنه، **د پنجاب ایالتي چارواکو خپلې دوسیې وپلټلې خو ونه توانېدل داسې ورته فدرالي لاربښوونه پیدا کړي چې د مېرمن بېنظیر بوټو (چې هغه هم د شوکت عزیز او شجاعت حسین چودري په څېر یوه پخوانۍ لومړۍ وزیره وه) د ساتنې لپاره صادره شوې وي.**

---

د یادولو ده چې همدا جنرال مشرف ؤ چې په ۱۹۹۳ز. کال کې یې بېنظیر بوټو، په (واشنګټن ډي سي) کې د پاکستان په سفارت کې د موساد له چارواکو او د اسراییلو د لومړي وزیر اسحاق رابین له ځانګړي استازي سره په پټه معرفي کړه. (د ډېرو مالوماتو لپاره ولولې د لیکنو ۱۶مه برخه)
[4]: http://www.israelnationalnews.com/News/News.aspx/124733
[5]:https://web.archive.org/web/20080102061016/http:/www.telegraph.co.uk/news/main.jhtml?xml=%2Fnews%2F2007%2F12%2F30%2Fwbhutto230.xml
[6]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf
[7]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf

[8]: د (VVIP) امنیت، هغه ډول امنیت دی چې د ولسمشرانو او یا د بهرنیو لوړپوړو ملیمنو لپاره د ځانګړو ځواکونو لهخوا نیول کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**کمېسيون ليکي چې کله له چارواکو وپوښتل شول چې ولې د مېرمن بې‌نظير بوټو د ساتنې لپاره داسې ځرګند او رسمي امر نه ؤ صادر شوی؟ نو روښانه ځواب يې ورنه کړ.** بوازې دومره يې وويل چې فدرالي حکومت د اکتوبر په ۱۸مه د سند ايالتي چارواکو ته لارښوونه کړې وه چې د جلاوطنۍ څخه د هغې د راستنېدو پر مهال يې امنيت خوندي کړي.
کمېسيون دې پايلې ته رسېدلی او وايي چې دا هېڅکله د منلو نه ده. **فدرالي حکومت د مېرمن بې‌نظير بوټو د ساتنې لپاره د اکتوبر د ۲۲مي نېټې، د هغه امر په څېر، روښانه او صريح رسمي لارښوونه، نه ده صادره کړې، کومه چې د پخوانيو لومړيو وزيرانو: شوکت عزيز او چوهدري شجاعت حسين لپاره صادره شوې وه.**[9]

## د پاکستانيو د پوځ (استخباراتو[10]) ونډه

په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې آی‌اېس‌آی د ټي‌ټي‌پي د مشر بيت الله مسيد او يو تن مولوي صاحب تر منځ د بې‌نظير بوټو د وژنې په اړه خبرې ثبت کړې وې.

کمېسيون د آی‌اېس‌آی له يو پخواني لوړپوړي چارواکي له قوله ليکي چې آی‌اېس‌ای د بيت الله مسيد مخابراتي اړيکي له نږدې څارلې نو ځکه يې د هغه غږ په اسانۍ پېژندلی شو.
هغه دا هم وويل **چې آی‌اېس‌آی په طالبانو پورې تړلې ترهګرې ډلې هم څارلې چې بې‌نظير بوټو يې څارله او په پرله‌پسې لويو غونډو کې يې د هغې د وژلو هڅه کوله.**
د همدې پخواني چارواکي په وينا، په پای کې همدغو ډلو په راولپنډۍ کې بې‌نظير بوټو ترور کړه.

دا مهال چې بې‌نظير بوټو وژل شوې وه، د پاکستان د راولپنډۍ د استخباراتو آی‌اېس‌ای د قطعې قوماندان، ډګروال **جهانګير اختر**، ماښام مهال تر ډېره وخته په روغتون کې موجود ؤ.

په روغتون کې د آی‌اېس‌آی عمومي رييس مرستيال، **ميجر جنرال نصرت نعيم**، د ډګروال جهانګير اختر د موبايل له لارې د روغتون له مشر پروفيسور **محمد مصدق خان** سره اړيکه ونيوله.

کله چې په دې اړه کمېسيون پوښتنه وکړه، د آی‌اېس‌آی مرستيال نصرت نعيم ونه منله چې ګواکې روغتون ته يې کوم ټيليفون کړی دی خو وروسته يې د نورو پوښتنو په ترڅ کې ومنله چې روغتون ته زنګ وهلی ؤ.

هغه وويل چې خپلو مشرانو ته د راپور ورکولو وړاندې يې غوښتل په مخامخ ډول د پروفيسور مصدق له خولې واوري چې بې‌نظير بوټو مړه شوې ده.

د آی‌اېس‌آی مرستيال، نصرت نعيم له دا ډول متناقضو ځرګندونو ښکاري چې نوموړي اداره له هر څه خبره وه او په لوی لاس يې د پېښې مخنيوی نه کاوه.

کمېسيون د پاکستانيو استخباراتو د لاسوهنو او پر نورو ادارو د دوی د هر اړخيز اغېز په هکله وايي چې «په پراخ مفهوم، د کمېسيون د پلټنو هېڅ برخه داسې نه وه چې د استخباراتي ادارو ــ ISI، پوځي استخباراتو (MI) او د ملکي استخباراتو اداري (IB) ــ د سياسي او پټو فعاليتونو د باور وړ ادعاوو تر اغېز لاندې نه وي راغلې، **نږدې په هره موضوع کې چې کمېسيون څېړله، استخباراتي ادارو پراخه او ژوره ونډه په کې لرله، په ځانګړې توګه پاکستان ته د آغلې بوټو د بېرته راستنېدو په سياسي مذاکراتو او د ټاکنو په بهير کې.**

---

[9]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pdf

[10]: پاکستان درې استخباراتي اداري لري، لکه **د استخباراتو ملکي اداره (IB)** چې ډېری کورني استخباراتي چاري ترسره کوي، د نوموړي اداري مشري يو لوړپوړی پوځي افسر کوي او په رسمي ډول د هېواد لومړي وزير ته راپور ورکوي.
**پوځي استخبارات: (MI)** د پاکستان د پوځ په د ننه کې کار کوي چې د پوځ لوی درستيز ته راپور ورکوي.
**د پوځ د پلي، هوايي او سمندري ځواکونو ترمنځ د استخباراتو مالوماتو د همغږۍ اداره (ISI)** ده. آی‌اېس‌آی، د درې واړو پوځي ځواکونو له استخباراتي ورتياوو ګټه اخلي، سربېره پر دې خپله هم پراخ خپلواک ظرفيتونه لري. ISI د دغو درېو ادارو تر ټولو ځواکمنه او اغېزمنه اداره ګڼل کېږي. که څه هم په رسمي ډول لومړي وزير ته مسؤله ده خو په عمل کې ډېری راپورونه د پوځ لوی درستيز ته ورکوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کمېسیون باور لري چې د آغلې بوټو له ترور وروسته د پولیسو او نورو چارواکو ناکامي چې ولې یې اغېزمن غبرګون ونه ښود، **په ډېرې مواردو کې قصدي کړنې وې،** په ځینو نورو مواردو کې بیا دغه ناکامي د دې له امله وه چې ډېر چارواکي د استخباراتي ادارو د ښکېلتیا په اړه په شک او ابهام کې وو. دغو چارواکو چې تر یوه بریده یې د استخباراتي ادارو له نفوذ څخه په وېره کې وو، نه پوهېدل چې تر کوم ځایه هغه څه په ټینګه تعقیب کړي چې دوی د مسلکي مسؤلیت له مخې پوهېدل چې باید ترسره شوي وای.

## د پاکستان د پولیسو ونډه

که له یوې خوا پاکستانیو استخباراتو په لوی لاس، د پېښې مخنیوی نه کاوه (چې په دې توګه یې له بریدکوونکو سره مرسته کوله.) بلې خوا پولیسو هم له آره د بې‌نظیرې په امینت کې مسؤلیت نه احساساوه او وړ مرسته یې نه ده کړې، بلکې د مېرمن بوټو له وژنې وروسته یې داسې کړنې هم ترسره کړې چې د پولیسو د دندې خلاف او یو ډول څرګند جنایت او له جنایت سره د همکارۍ کول وو.

د ۲۰۰۷ز. کال د ډسمبر په ۲۷م ماښام، له لیاقت باغ څخه بهر د چاودنې له رامنځته کېدو لږ وروسته، د راولپنډۍ د پولیسو مشر **(CPO) سعود عزیز** د پېښې ځای پرېښود او د راولپنډۍ جنرال روغتون ته ولاړ. لږ وروسته د پولیسو یو مشر **(SSP) یاسین فاروق** هم ورپسې روان شو.

له هغوی وروسته د راولپنډۍ یو بل جګپوړی پولیس افسر **SP خرم شهزاد** چې د پېښې په ځای کې پاتې ؤ، د ټیلیفون له لارې یې له CPO سعود عزیز څخه لارښوونې اخیستلې.
د چاودنې له رامنځته کېدلو یوازې یو ساعت او څلوېښت دقیقې وروسته، **خرم شهزاد د ژغورنې او اور وژنې [اطفایې] مسؤلینو ته امر وکړ چې د اطفایې د اوبو په وسیله د جرم تولې سیمه په اوبو ومینځي.**
خرم ویل چې د جرم د ساحې د مینځلو پرېکړه خپله ده کړې وه. حقیقت دا دی چې د ژغورنې او اور وژنې ادارو ته د امر له ورکولو مخکې، هغه خپل مشر سعود عزیز ته ټیلیفون وکړ او اجازه یې ترې وغوښته چې هغه هم اجازه ورکړه.
نه یوازې دا چې خرم شهزاد، د ځای مینځلو پرېکړه په خپل سر نه وه کړې، بلکې د راولپنډۍ د پولیسو مشر سعود عزیز هم په خپل سر د ځای مینځلو پرېکړه نه وه کړې.
ځینو سرچینو کمېسیون ته وویل چې سعود عزیز د جرم د ساحې د مینځلو پرېکړه په خپلواکه توګه نه وه کړې. یوې سرچینې چې د خپل نوم د پټ ساتلو په شرط یې خبرې کولې، وویل چې سعود عزیز ورته په شخصي توګه ویلي وو چې **د پوځ له عمومي قوماندانۍ (Army Headquarters – GHQ) څخه تیلیفوني امر ورته شوی ؤ چې د جرم ځای په اوبو ووینځي.**
یوې بلې سرچینې، چې هغې هم د نوم د نه ښودلو په شرط خبرې کولې، وویل **چې د صحنې د مینځلو امر هغه مهال د پوځي استخباراتو (MI) عمومي رئیس میجر جنرال ندیم اعجاز احمد ورکړی ؤ.**
همدارنګه، د درېیو پولیسو افسرانو په ګډون، نورو سرچینو هم کمېسیون ته وویل چې سعود عزیز په خپل سر اقدام نه ؤ کړی.

## د بې‌نظیر بوټو د جسد د سپړنې مخنیوی

سره له دې چې ډېرې څېړونکې پوهېږي چې بې‌نظیر بوټو د توپانچې د ډزو له امله (چې پر سر او غاړه لګېدلې وه) وژل شوې ده خو ډېر نور کسان د هغې د وژلو په څرنګوالي سم نه پوهېږي، ځکه چې د روغتون ډاکټرانو ته د پولیسو لخوا اجازه ورنه کړای شوه چې د بې‌نظیر بوټو د جسید ټپونه وسپړي او پر بنسټ یې د هغې د مرګ د څرنګـوالي رسمي اعلان وکړي.

که له یوې خوا د راولپنډۍ د پولیسو مشر سعود عزیز ته د چاودنې د ځای د مینځولو امر د پوځ د لوړپوړو چارواکو لخوا شوی ؤ، بلې خوا نوموړي پولیس په لوی لاس د بوټو د جسد د رسمي سپړنې مخه هم نیولې وه او د پلټنو په څو برخو کې یې پر پلټونکو ملنډې هم وهلې وې.

د راولپنډۍ د جنرال روغتون مشر متخصص ډاکټر **پروفیسور محمد مصدق خان** درې ځله په بېلابېلو وختونو کې د راولپنډۍ د پولیسو له مشر سعود عزیز څخه د بې‌نظیر بوټو د جسد د سپړنې (Autopsy) اجازه وغوښته خو سعود


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

عزيز هر ځل دا غوښتنه رد کړه او د دويم ځل غوښتني پر مهال **سعود عزيز په ملنډو له پروفيسور څخه وپوښتل: آيا د دې پېښې په اړه FIR (لومړنی پوليس راپور) ثبت شوی دی؟**[11]

کمېسيون وايي چې دا هغه موضوع وه چې بايد خپله د پوليسو مشر سعود عزيز پرې خبر وای، نه پروفيسور محمد مصدق خان.
د پاکستان د قانون له مخې، که مړينه غيرطبيعي وي، پوليس مکلف دي چې د خپلو پلټنو د يوې برخې په توګه د مړي د جسد سپړني راپور ترلاسه کړي. چې د جسد د سپړني د پيل مسؤليت د پوليسو پر غاړه دی، نه د روغتون د ادارې. روغتون يوازې هغه مهال جسد سپړنه ترسره کولای شي چې پوليس رسمي غوښتنه ترې وکړي.
د پوليسو مشر سعود عزيز، د مېرمن بوټو د جسد د سپړني د مخنيوي په موخه دا پلمه کړې وه چې ګواکې مور د بې‌نظير بوټو خاوند، آصف علي زرداري اجازې ته اړتيا لرو. آصف زرداري چې هغه مهال په دوبۍ کې ؤ، تر هغه چې نوموړی پاکستان ته راورسيده ۷-۸ ساعتونه په منځ کې تېر شوي وو چې په دې اوږده موده کې د جسد سپړنه لا وختي ترسره کېدای شوه.
بله دا چې د بې‌نظير بوټو جسد، لا له وړاندې په تابوت کې اېښودل شوی ؤ او د پاکستان د هوايي ځواک(PAF) د (چکلاله) هوايي اډې ته وړل شوی ؤ.
کمېسيون وايي چې دا مهال، د پوليسو مشر، سعود عزيز، آصف علي زرداري له داسې حالت سره مخ کړ چې د جسد د سپړني د غوښتني د ردولو بله لاره نه لرله.

په پای کې نوموړی کمېسيون ليکي چې دغو ټولو عواملو ته په کتو، په کلکه دا شونتيا پياوړې کوي چې **لا له وړاندې، يوه طرحه موجوده وه څو د بې‌نظير بوټو د جسد د بشپړې او هر اړخيزې عدلي معايني مخه ونيول شي.**

بله دا چې د راولپنډۍ د پوليسو مشر د بې‌نظير بوټو د وژني په هر ډول پلټنو او څېړنو کې له ټاکل شوو ډلو سره مرسته نه کوله او د هغوی پر وړاندې به يې ډول، ډول خنډونه جوړول. د بې‌نظير بوټو له وژل کېدو، يوه ورځ وروسته، د ډسمبر په ۲۸م ماښام، د **(Joint Investigation Team) چې په لنډو (JIT) يادېده،** د نوموړې ډلې غړي په راولپنډۍ کې د پوليسو مرکز ته ولاړل او هلته يې له سعود عزيز سره وليدل، د پوليسو مشر عزيز، د دې پر ځای چې هغوی مخامخ د پېښې ځای ته ورولي، هغه د کنفرانسونو په خونه کې د دوی لپاره د چای مېلمستيا برابره کړه، دا مهال چې د JIT غړي په هماغه د کنفرانسونو په خونه کې ناست وو، سعود عزيز د ټلويزيون پر پرده د کورنيو چارو وزارت وياند، بريګېډير جاوېد اقبال چيمه، د تېرې خبرې غونډې مالومات خپاره کړل.
د ملګرو ملتونو کمېسيون، د يوې باورې سرچينې له قوله ليکي چې پر ټلويزيون باندې د خبري غونډې له ليدلو وروسته، سعود عزيز په ملنډو د JIT غړو ته وويل: **«اوس نو تاسې نور څه شی پلټئ؟ بريدکوونکی خو دا دی مالوم شو.»**

په پای کې کمېسيون دا هم ليکي چې **«... د راولپنډۍ د ښار د پوليسو مشر (CPO) سعود عزيز د (JIT) ځينې پلټونکي د ترور له پېښې څخه تر دوو ورځو پورې د پېښې ځای ته له ورتګ او څېړنې څخه منع کړي وو.»**

د ډسمبر په ۲۸م سهار، هغه ډاکټران چې د بې‌نظير بوټو په درملنه کې يې برخه اخيستې وه، د راولپنډۍ د ولسوالۍ همغږي کوونکي، يا د ولسوالۍ د ټولو ادارو مشر (DCO) الهی نومي کس لخوا روغتون ته راوبلل شول. هغه له ډاکټرانو وغوښتل چې د بې‌نظير بوټو د درملنې په اړه يو راپور چمتو کړي.
**DCO الهی هغوی ته لارښوونه وکړه چې د راپور اصلي نسخه بايد، يوازې ده ته وسپارې، هغه ټينګار وکړ چې نه دې د راپور کاپي وساتل شي او نه هم بربېښنايي ليک.**[12]

---

[11]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pd

[12]:https://bhutto.org/wp-content/uploads/2020/12/UN-Report-on-Mohtarma-Benazir-Bhuttos-Assassination.pd


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دا داسې يوه غوښتنه وه چې د بې‌نظير بوټو په وژلو کې د مشرف د حکومتي ادارو لاس لرلو شک لا پياوړی کوي ځکه چې دا داسې يوه غوښتنه وه چې بايد پټه ساتل شوی وای او يوازېDCO الهی پرې خبر واي.

نېټه:۱۴۰۵/۴/۲۶ل. ل

**نور بيا**

**د ښاغلي محمد انور اڅړ نوري ليکنې په دی لينک کې ولولئ.**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ